هاري    واشنګټن ۰۷/۰٦/۲۰۰۹

# په قاهرې کې داوباما وینا

د قاهرې په پوهنتون کې د متحده ایالاتو د جمهوررییس باراک حسین اوباما فصیح او جالبه وینا دا ځرګنده کړه چې واشنګټن ته نوی مدیریت راغلی دی. بلخوا، د ښاغلی اوباما بلاغت، صداقت، او سپینو خبرو د امریکا پخوانی ګونګې او ناکامه ولسمشر جورج بش هم وشرموی. د قاهرې په وینا کې، اوباما د اسلامي نړۍ سره د متحده ایالاتو د روابطو د "نوي ډیل" په باب خبري وکړې. د اوباما وینا دونه نوې او جالبه وه چې د متحده ایالاتو د نورو ولسمشرانو څخه یې د اورېدو هیڅ توقع نه کېده. ځکه د سپټېمبر د یوولسمې تر ترورېزم او وحشت وروسته، مسلمانانو فکر کاوه چې د "تروریزم پر خلاف جګړه" په اصل کې د اسلام پر ضد د امریکا نه اعلان سوی جنګ دی. د بش د تروریزم پرخلاف جنګ نه یوازې اسلامي نړۍ وځپله، بلکې د امریکا لپاره هم ډېره ګرانه تمامه سوه. په دواړو خواوو کې کرکه، بدي، او بدګماني ډېره سوه. ښاغلي اوباما د قاهرې په وینا کې نه یوازې د مسلمانانو سره د دوستی او نوي ډیل وعده وکړه، بلکې د خپلې کورنۍ د اسلامي رېښو په باب یې هم په زړه پوري بیان وکی.

ښاغلي اوباما د افغانستان په ارتباط وویل د افغانستان جنګ د امریکا لپاره ضروري وو. له هغه ځای څخه د القاعدې قاتلانو پر متحده ایالاتو باندې حمله وکړه، او څه د پاسه درې زره بې ګناه کسان یې قتل عام کړل. بلخوا، اوباما د عراق ناروا اشغال او تجاوز یو " اختیاري" جنګ وباله، او خپل ځرګند مخالفت یې ورسره اعلان کړ. هغه زیاته کړه، "موږ په افغانستان کې دایمي اډې نه غواړو." هغه دغه راز وویل، "یوازې انتخابات دیموکراسي نه سي ایجادولای." زه هیله من یم چې ښاغلی اوباما خپله همدا خبره په افغانستان کې هم عملي کړي. هلته د امریکا په ملاتړ یو داسي نامشروع حکومت ټینګ سوی دی چې د افغانانو د مطلق اکثریت ملاتړ نلري.

بل پلو، اوباما مجبوره دی چې په افغانستان کې د راتلونکو انتخاباتو په باب خپله پالیسي ځرګنده کړي، ځکه د کرزي بیا راتګ به د اوباما ټولې خبرې او ژمنې په صفر کې ضرب کړي. د کرزي حکومت په ټمبلتون بدل سوی دی، او که چیرې اوباما د همدې حکومت د ختمولو کار ګرندی نکړي، زه یقین لرم چې افغانان به د اوباما اکثره نوري خبري هم بابېزه وګڼي. په افغانستان کې د امریکا پرله پسې اشتباهاتو په هغه هېواد کې د متحده ایالاتو ملګري هم د امریکا مخالف کړي دي. اوباما مجبوره دی چې خپل ښه نیت په عمل کې پلی کړي، ځکه عمل تر خبرو ډېر اغزمن وي. په بل عبارت، افغانستان هم یو نوی ډیل، نوی لیډرشیپ، او نوی حکومت ته اړتیا لري.

که څه هم د قاهرې وینا به د مسلمانانو او امریکا تر مینځ د تېرو زهرجنو اتو کلونو بې اعتمادي او بدي ټوله په یوه ورځ رفع نکړي، خو د هغه وینا یو ښه اغاز کېدای سي. د بش حکومت په ترڅ کې مسلمانان دې نتیجې ته رسېدلي وه چې امریکا د ګرده اسلامي امت پر خلاف جنګ اعلان کړی دی. همدې مفکورې د امریکا او مسلمانانو تر مینځ واټن لا پراخ کړ، او د تمدنونو د ټکر خطرناکه مفکوره یې لا غښتلي کړې.

اوباما د قاهرې په وینا کې د اسلامي تمدن عظمت او لاسته راوړني هم يادي کړې. هغه په هسپانیې کې د مسلمانانو فکري او مذهبي زغم او ازادۍ ته اشارې وکړې چې د نور مذاهبو او اقلیتونو سره د مسلمانانو له اوسني له شرمه ډک چال چلند سره یې ۱۸۰ درجې توپیر درلود. نن سبا، مسلمانان پر خپل ځان باندې بې اعتماده سوي دي، او له خپل سیوري ډارېږي. په هر کار، هر ځای، او هر اقدام کې دسیسه ویني. له هر چا، له هري نوي مفکورې، او له هر بدلون څخه بېرېږي. بلخوا، ښاغلي اوباما په خپلې وینا کې څلور ځله د قران مجید ایات بیان کړل. د هغه دا کار د بش د اداري د اسلام دښمنه پالیسیو سره هم کاملا توپیر لري. د بش اداره لکه نور افراطیان د تمدنونو د ټکر، د جنګ، او تشدد پلویان وه.

په عین حال کې، د فلسطین او اسرایلو د شخړې په باب د ښاغلی اوباما ځرګندوني نوې، متوازني، او منصفانه وې. هغه د بني اسرایلو تاریخي کړاونو، محرومیتونو، او مهاجرتونو ته اشاره وکړه. هغه وویل، " د هالکاسټ نه منل، جهالت، کرغېړن، او بابېزه عمل دی." حقیقت دا دی چې د تاریخ نه منل ناپوهي او سرتمبه ګي ده. خو ښاغلی اوباما دغه راز اسرایل د دوو دولتونو منلو ته هم وهڅاوه. ښاغلی اوباما د فلسطینانو شپېته کلن کړاونه، مهاجرتونه، او در به درۍ یادي کړې. هغه په فلسطین کې د اسرایلو د دوامداره مېشته کېدو او د مځکو غصبولو پر خلاف سخت درېځ غوره کړ، د فلسطینیانو شرایط یې " نه زغمل کېدونکي" وبلل. اوباما اسلامي ملکونه دېته تشویق کړ چې اسرایل په


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

رسمیت وپېژني، او د یهودو پر دولت، شتون، او واقعیت باندي سترګي پټي نه کړي. مسلمانان مجبوره دي چي له دارنه خوب څخه را وېښ سي، او د اسرایلو له دولت سره رسمي روابط پیل کاندي.  د فلسطینیانو د حقوقو په اړه د ښاغلي اوباما څرګندوني د متحده ایالاتو د جمهوري ریاست په تاریخ کي ساری نلري.

ښاغلي اوباما د بش د اداري د ترورېزم پر خلاف له تباه کونکو پالیسیو څخه خپله لاره جلا کړه. مګر هغه د مذهبي افراطیانو سره جګړه روا و بلله، او د هغوی ماتول یې ضروري وګڼل.  د ښاغلي اوباما همدا مفکوره درسته او منطقي ده.  مذهبي افراطیت تر بل هر چا  خپله د مسلمانانو لوی دښمن دی، او موږ مسلمانان مجبوره یو چي ددې بلا او وحشت سره وجنګېږو.  موږ مجبوره یو چي د افراطیت نوغی وباسو، او دا تېاره مفکوره د ابد لپاره ښخه کړو. هغه وویل، " د بې اعتمادۍ او مخالفت لړۍ باید ختمه سي."  هغه زیاته کړه، "زه دلته د یوې نوې مرحلې د پیلولو لپاره راغلی یم. یو داسي پیل چي پر همکارۍ او درناوی باندي تکیه ولري." د ښاغلی اوباما لدې بلني سره همکاري، هملاسي، او همږغي د ټولو مسلمانانو په خیر او ګټه ده.

ښاغلي اوباما د ښځو د حقه حقوقو په باب هم سپیني او منطقي خبري وکړې.  هغه وویل زه د ښِځو د حجاب سره هیڅ مخالفت نلرم، خو لدې سره مخالفت لرم چي ښځي له تعلیم او علم څخه منع سي، د هغوی حقه حقوق تر پښو لاندي سي، او هغوی له اجتماعي ژوند څخه لیري وساتل سي. هغه د ښځو او نارنیو تر مینځ د مساوات او برابرۍ موجه دفاع وکړه.  اوباما وویل په هغو ملکونو کي چي ښځي په اقتصادي ژوند کي پراخه ونډه لري، هغه هېوادونه پرمختللي او مترقي هېوادونه دي. باید زیاته سي چي د ښاغلی اوباما د همدې مطلب ښه ثبوت خپله افغانستان دی. پدې کي هیڅ شک نسته چي په اسلامي ملکونو کي د ښځو حقه حقوق ندي اعاده سوي، او ځیني ډلي لکه طالبانو خو د مسلمانو ښځو سره دښمني خپله رسمي پالیسي ګرځولې ده. د ښځو د حقوقو او ازادۍ سره د طالبانو او نورو افراطي ډلو بدي او ضدیت نه یوازي یو کرغېړن او اخلاقي ضد عمل دی، بلکي یو لوی شرم هم دی.

زه یقین لرم چي د ښاغلی اوباما دا تصمیم چي غواړي د مسلمانانو سره د متحده ایالاتو اړیکي پر یوه نوي بنسټ او اساس باندي جوړي کړي، په ګرده اسلامي نړۍ او په تېره بیا په مینځني ختیځ کي به د سولي او ثبات لپاره نوي هیلي را وسپړي. د اسلامي نړۍ سره د متحده ایالاتو بیا نژدې کېدل د ښاغلي اوباما پر سیاسي مهارت او درایت باندي دلالت کوي، ځکه په اسلامی نړۍ کي امریکا د یوې توري بلا او "شیطان بزرګ" په نامه پېژندل سوې ده.  زه باور لرم چي د کلونو کلونو کدورت او بدګمانۍ لیري کول به اسانه کار نه وي، خو که چیري دواړي خواوي له صداقت، شهامت، او بصیرت څخه کار واخلي، زه یقین لرم چي ثبات او سوله ټینګېدای سي.  مذهبي افراطیت ماتېدای سي. او لنډه دا چي ورورولي او بشر پالنه ټینګېدای سي.

هغه وویل، "لمړی کار چي موږ یې باید وکړو هغه د تشدد او افراطیت سره ډغري وهل دي."  د ښاغلی اوباما همدا مفکوره کاملا درسته او واقعي ده. ځکه افغانان تر بل هر چا د  مذهبي افراطیت قربانیان دي.  دغه راز، پدې ارتباط موږ مسلمانانو ته هم لازمه ده چي له هغه  سره پوره همکاري وکوو. هغه څه چي په خصوصي ناستو کي وایو، هغه په عامه توګه هم ووایو. په بل عبارت، د خپل نظر د بیان شهامت او جرات پیدا کړو.  بد ته بد ووایو او ښه ته ښه. له ریاکارۍ او دومخۍ څخه ځان وژغورو، ځکه صادقان د خدای دوستان وي.  په پای کي، ښاغلی اوباما وویل،" نړیوال کولای سي چي په سوله کی ګډ ژوند سره وکی.  موږ پوهېږو چي همدا د خدای غوښتنه ده. دلته پر دې خاورېني دنیا باندي همدا باید زموږ  اساسي وظیفه او هدف وي."  د اوباما همدا غوښتنه سل په سل کي تاییدوم. والسلام.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً  به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de